مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۱/۲۴

د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

دویم ټوک

اته شپېتمه برخه

فراه

او

د افغانستان سویلي برخې

تصحیحات

ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973

لودویک آدمک

لاش جوین: ۴۳ – ۳۱ ، ۳۷ – ۶۱: *دا هم یوه علاقه داري ده او هم یو ښارګوټي دی؛ دا ځای د یوې کلا پر ځای جوړ سوی دی چې کلا ئـې لاش او دښته ئـې جوین نومېدله. دا غبرګ نوم په څو څو ډولونو لیکل سوی دی: لاش و جوین، لاشِ جوین یا لاش – جوین.د دغـهٔ نامـهٔ تسمیوي وجهه روښانه نـهٔ ده. روایات وایي چې لاش د یوهٔ حصار نوم وو چې د فراه د سیند په ختیځې غاړې کې واقع وو (د لاش لغت د لاښ یا جسد په معنی دی). د جوین د تسمیوي وجهې لپاره دوه روایات دي: لومړی وایي چې دا د وریشو (جـَو) له کرلو څخه د خپل اهمیت په لرلو راغلی نوم دی نو له دې کبله ئـې دا ځای د "وریشو د سیمې" په نامـهٔ نومولی دی؛ دویم روایت وایي چې دا نوم د اوبو لګولو له اصطلاحاتو څخه ده چې د اوبو د را ایستلو یوه وسیله وه (ارهتِ – ژ) او څرخونه ئـې درلودل او دوه وو غوایانو دا وسیله ګرځوله نو دا «ګاوین» دی. لاش جوین د اټکل له مخې ۱۵۳۳۰ تنه استوګن وګړي په ۲۲ کلیو کې لري. دا علاقه داري د فراه په سویل لویدیځې څنډه کې واقع ده او دغه سیمې ورسره پوله جوړوي: شمال کې قلعـهٔ کاه؛ ختیځ کې چاه برګ، چاه کیرته او تخت رستم او سویل کې میل کورکې؛ او لویدیځ کې قلـعـهٔ کاه او د ایران یو ولایت دی.*

دا علاقه داري د لرغونـي سیستان یوه برخه ده چې د ډېرو لروغونو پاتې شونو سیمه ده په ځانګړې توګه د پش آوران سیمه.د دې ځای مهم زیارتونه دا دي: د سید میر اقبال مقبره، د حاجي شمس الدین اسحاقزي مقبره او د محمد نور صاحب مقبره.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا علاقه داري ۱۴۶۰۰ جريبه کرنيزه ځمکه لري چې کانالونه ئـې خړوبوي. په کوۀ کاه کې يوه لرغوني ځاه ده چې کټ مټ نورو عادي ځاه ګانو ته ورته ده او تر اوسه کار ورکوي. دغه ځاه ګانې يوه ئـې کولای سي له لسو تر پينځلسو جريبو پورې ځمکه خړوبه کړي؛ دلته ارهتونه جوړ او په کار اچول سوي دي چې د اوبو لګولو لپاره اوبـۀ راباسي. د چارګاوک کلی د همدغو ارهتونو د لرلو په پار دغسې نوم اخيستی دی. دلته د غلاتو ببـلا ببـل ډولونه په پريمانه ډول سته؛ کورنـي ځاروي ، وزې، پسونه اوښان او نور کورنـي ځاروي دي.

په ۱۹۷۱ز کال کښ دې ځای د ښارګوټي ډېرې برخه سيلابونه ورانه ويجاړه کړله.

لاش جوين په ۱۹۱۲ ز کال کې په لاندې ډول شرح سوی دی:

د لاش او جوين دواړه لرغوني نومونه «هوک» يا «اوک» وو او عربي جمع ئـې هوکت سوی دی چې همدا اوس هم دا علاقه داري په همدغـۀ نامـۀ پېژندل کېږي يا آشنا ده. د لاش جوين د علاقه داري اوسنی پولې دا دي: سويل کې نی زار؛ ختيځ ته ئـې د خاش دښته (ښايي خسپاس ته نـېږدې يا د سيند ختيځ يا لويديځ خوړ وي)؛ شمال ئـې د فراه رودِ خواته غځېدلي او تر «توجک» پورې رسېږي؛ ورپسې لويديځ لور ئـې د خاشرود تر سر پورې او په اوږدو کې ئـې هاروت رودِ او بيا د فارسو – افغان سرحد دی چېد دې سيمې لويځ او سويل لويديځ حد دی.د دې سيمې د منځنۍ کچې لوړوالی ۱۸۰۰ فيټه دی. تختِ رستم ۱۶۸۰ فيټه لوړ دی، (لاش ته نـېږې) پنج دِه ۱۸۱۰ فيټه ده حال دا چې خاش رود چې د هرات سړک ورڅخه تـېرېږي ۱۹۱۲ فيټه لوړوالی لري. ميتلند وايی چې اقليم ئـې تر دېره هماغه د سيستان اقليم دی.

د دې ځای په هر ګام کې د لرغونو پاتې شونو شتون د دې شاهدي ورکوي چې دا سيمه يو مهال سمسوره او ګڼ وګړې سيمه وه او له اوسنيو فلک وهلو له ختو جوړو جونګړو سره چې دا کلی ئـې جوړ کړی عجيبه مقايسه جوړوي. دغه تدريجي زوال د پرله پسې يرغلونو او اوښتونونو له کبله رامنځته سوی چې دا سيمه ئـې د پېړيو پېړيو په اوږدو کې له خاورو سره يوه کړې ده. دا لرغوني پاتې شونې د پش آوران او زاهدان د پاتې شونو کټ مټ ځانګړتياوې لري او له ظواهرو ئـې ښکاري چې دا ځانګړتياوې عربي منشاء لري؛ خو په منځ کې ئـې داسې پاتې شونې هم سته چې چندان هنري خصوصيات نـۀ لري او د معاصرو جوړښتونو د پاتې شونو کم ارزښته ځانګړتيا لري. د هرات، فارس او کندهار په اړوند د لاش جوين موقعيت تل يو ستراتيژيک موقعيت ګڼل سوي دی ځکه دې ځای د کندهار پر لور له فارس څخه راتلونکو لښکرونو ته چې د هرات له لارې په مجموع کې ليرې لارې ده، د پرمختګ وړتيا ورکوله؛ د همدې دليل له کبله د دې ځای مشر تل د ډېر سياسي نفوذ خاوند اوسېدلی دی.

د کندهار او هرات تر منځ لرغونی سړک فراه او سبزوار ته د سيستان او هوکت له لارې تل هغه لاره پاتې سوې چې «يرغلګر – ژ» ځواکونه ورباندې راغلي دي ځکه دې لاره کې تل د اړتيا وړ د توکو پريمانتيا وه او هم مخکې له دې چې د ګرشک نيغه لاره ونيسيد دې لارې په اوږدو کې ئـې لومړی استوګن وګړي اطاعت کولو ته اړ ايستلي دي تر څو ځانونو ته د تګ لاره خوندي کړي. د «ګوډ – ژ» تيمور يرغلونو او تاړاکونو هغه ورانۍ او ويجاړۍ بشپړې کړې چې د چنګيز خان يرغلونو پيل کړې وي او ورپسې د بابر او نادر (افشار – ژ) تيريو يو ځل بيا هغه نيمګړي کارونه چې له دغو يرغلونو وروسته بيا رغول سوي ول له خاورو سره يو کړل. بابر په ۱۵۲۲ز کال کې د هوکت يا اوک تر ټولو مهم بالاحصار ونيو او له خاور سره ئـې يو کړ. څه دباندې دوه پېړۍ وروسته نادر (افشار – ژ) د کندهار پر لور مارش وکړ او د خپلې لارې په اوږدو کې ئـې عمده او لويې کلاګانې د فراه او سيستان او ګرمسيل تر

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بُست پورې له خاورو سره یو کړې، او تقریباً د ۱۷۳۷ز کال را په دیخوا تر نن پورې دا سیمه هماغسې ورانه ویجاړه پاتې ده چې نادر (افشار – ژ) شا ته پرې ایښې وه. د بیلو (۱۸۷۲زکال) خبره ده چې دا سیمه د سمسورتیا او ښېرازۍ ټولې ځانګړتیاوې لري؛ د دې سیمې خاوره حاصلخیزه ده او پریمانه اوبـۀ ئـې په واک کې دي خو د کلونو کلونو په اوږدو کې د انارشیو او استبداد د لعنت له لاسه کړېږي. کرنیزه ځمکه ئـې ډېر زیاته یېره وره یا حاصلخیزه ده، او د کورنیو څارویو لپاره فوق العاده عالي مالځرځایونه په وفرت لري. اوبـۀ ئـې زښتې ډېرې پریمانې دي او د اوبو لګولو د موخو لپاره دا ډېره آسانه چاره ده چې له سیند څخه ورته اوبـۀ راوړول سي، پخوانۍ لرغوني نښې څرګندوي چې پخوانیو خلکو دا کار کړی دی خو اوس ټول له یوې مخې له زوال سره مخامخ دي دا ویالې له همدې سیمې تـېرېدلې. پر دې سیمې د غفلت او زوال خپور سیوری د سیستان د ګاونډۍ سیمې له سمسورتیا او صنعت سره په متقابل تضاد کې ده. دا ټول د فارسي سیستان د والي کړو وړو او چار چلند ته نسبت ورکړل سوی دی چې ډېرې فارسي نژاده بزګران ئـې په غلا له ځان سره یوړل او هغوی ته ئـې سیستان کې نویو لاس ته راغلو سیمو کې ځایونه ورکړل او د هغو خلکو پر ځمکو او کورونو ئـې چپاو او بریدونه وکړل چې فارسي سیستان ته ئـې له تللو سرغړونه وکوله ځکه غوښتل ئـې چې د دۀ سیمو ته کډه وکړي. هوکت پخوا ۱۲ د استوګني کلي درلودل او د ژمي او پسرلي په موسونو کې به دا سیمه د افغانانو (نورزیو او اسحاقزیو) کوچیانو په کـېږدېو ډکه وه، خو پر سیستان باندې د فارس له برېدونو وروسته دغو خلکو بیا دغـۀ ځای ته مخه نـۀ ده کړې او پېنځه کلي خو لا بیخي متروکه دي. واقعیت دا دی چې هوکت اوس تقریباً له خاورو سره یو دی."

له دې علاقه دارۍ څخه په ۱۸۸۴ز کال کې د افغان سرحدي تحدید کمیسیون تـېر سو او له شرایطو او حالاتو ئـې ښکارېدل چې سیمه لا نوره پسې بدتره ورانه ویجاړه سوې وه. هغه دښته چې د جوین په نامـۀ یادېږي (لاش یوازې د کلا نوم دی) ۸ یا ۹ مایله اوږده ده او له ۶ تر ۷ مایلو پورې ارته ده. دا دښته له سره تر پایه د بیلابیلو لوړو سطحو په لمنو کې راچاپېره ده خو تر ټولو لوړه سطحه ئـې له ۸۰ فیټو پورته لوړه نـۀ ده.د دغو لوړو سطحو ژۍ شخې او ستوغې دي او په عام ډول لاسرسی ورته سخت دی. دې دښتې ته فراه روډ، له شمال لویدیځې څنډې ننوځي او مخ په لویدیځ ځغلي او د دښتې له یوې پراخې خولې څخه د سیستان صبري هامون ته ورغورځي. پیکاک دا دښته په لاندې ډول شرحه کوي :

" « له تختِ رستم» څخه یو نیم مایل سړک په څو آسانو له ۱ تر شلو تر ۱ په ۵ اوترایي ګانو وروسته د لوړې سطحې دښتې یعنې د جوین دښتې ته ورخـېږي چې له هامون څخه ۲۵۰ فیټه لوړه ده. دې سطحې ته له ختلو وروسته په اتم مایل کې لارهد دې لوړې سطحې شمال لویدیځې ژۍ کې په یوې نرمې چرایي کې د جوین دښتې ته کوزېږي.د دې لوړې سطحې پراتـۀ له یوې ژۍ څخه تر بلې له ختیځه تر سویله او له لویدیځه تر شماله ده چې په قاعده برابره خو لږ چاوده لري. دا سطحه دوه پټې لري یوه ئـې پورتنۍ پټه او بله ئـې کرار کرار دښتې ته شیوه سوې ده. که تاسو هم د لوړې پټې او هم د کوزنۍ پټې له سره وګورئ نو د جوین ټوله دښته لیدلای سئ. د لوړې سطحې دغه دښته ۷ مایله پلنه له شماله تر سویله او له ختیځه تر لویدیځه ۹ مایله اوږده ده او په شمال لویدیځه برخه کې د پنجدۀ له دښتې او له سویل او ختیځ لوري د جوین له دښتې سره نښتې ده او سویل لویدیځ لوري ته ئـې مخه د نیزار خواته خلاصه ده چې د هامون په لویدیځ کې واقع دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د جوین د دښتې سویلي برخه په خپلې ختیځې ژۍ کې ظاهراً یوې درې له شمالي برخې څخه جلا کړې ده. د جوین د دښتې د یوې ژۍ له پاسه لویه لوړه سطحه چې کـېـدای سي ۵ مایله پراخه وي له پوځي اړخه ښـۀ دفاعي موقعیت لري چې مخه ئـې له لویدیځه د شمال لور ته ده. دغه دفاعي موقعیت د جوین د دښتې له پاسه له خپلې لوړې څنډې څخه ۸۰ فیټه لوړه ده او په خپلې پراخې کښتنۍ کرښې کې ۳۰ فیټه لوړه ده؛ د دې لوړې سطحې له پاسه بله کومه لوړه مسلطه سطحه نـۀ سته او احتیاطي ځواکونو ته د لوړې سطحې پر سر ښـۀ محافظتي ځای ورکولای سي. د دې لوړې سطحې څوکه د توپخانې ځواک لپاره ښـۀ موقعیت لري؛ د دې ځای کښتنۍ برخه د پلې ځواک لپاره ښــۀ دفاعي کرښه ورکوي.د دې لوړې سطحې خاوره روښانه شګلنه د رس خاوره ده چې لږ جغل هم لري. دا لوړه سطحه ۷ مایله پراخه ده او خلاص مخ لري او یوازې له یوۀ ټکي څخه چې لږ د اوښانو د خوراک بوټي دي یا د اوبو لګولو ویالـۀ ده بل دفاعي پوښښ نـۀ لري. دا ځای نیغ په نیغه د بیرته شا تګ «عقب نشینی» اساسي کرښه چې د تختِ رستم – ابراهیم آباد سړک دی تر پوښښ لاندې نیسي. د بیرته شاتګ لپاره بل سړک هم سته یعني لاش څخه تر چالباګي[1] او بیا تر خاش یا چخانسور پورې سړک دی. د دغـۀ موقعیت کینه جناح په خاص ډول پر هامون باندې سپره ده او اړول کـېدای نـۀ سي. دا موقعیت د هلمند له ښۍ غاړې څخه د هر ډول تعرضي پرمختګ مخه چې له بیرجند، زکین او یا فراه څخه د پنجدۀ له لارې راځي بندوي. خو هغه سړک چې د تختِ رستم او چالباګي له لارې له فراه څخه راځي باید تقویت سي او که ونیول سي دلته باید یو ځواک واچول سي چې په خپلې ښۍ جناح کې سړک په خاص ډول تر څار لاندې ونیسي. که دا جناح ټینګه سي دا امکان برابروي چې ځواکونه د هامون ختیځ لور ته شا تګ وکړي او بیا د هلمند سویلي غاړې ته د کمال خان د بند له لارې لاړ سي.

د لاش جوین بنسټ ایښودونکی یا مؤسس اسحاقزی درانی کمال خان وو چې لاش ئـې د تیمور شاه «بابا – ژ» د سلطنت پر مهال ئـې ونیو. له کمال څخه د رحمدل په نامـۀ یو زوی پاتې سو، رحمدل له چا سره ډډه نـۀ لګوله او نـۀ ئـې چنداني نفوذ درلود، خو د دۀ زوی، صالح محمد د تیمور «شاه بابا – ژ» د زوی «محمود» معتمد او د خوښې وړ سړی وو او د کلونو کلونو لپاره ئـې د هغـۀ په بیلابیلو برخه لیکونو کې ورسره ملګری وو. کله چې محمود په ۱۸۱۰ز کال کې سلطنتي تاج پر سر کښـېښود نو خپل وفادار خدمتګار ته ئـې هوکټ په تیول کې ورکړ او څنګ ته ئـې د شاه پسند خان لقب هم ورکړ. په دې وخت کې دا علاقه داري په ډېرې سختۍ له فلک وهلي وران ویجاړ حالته بیرته ورغول سوه، د ګوډ تیمور د یرغل له ورانیو وروسته دا ځای یوازې د نورزیو او نورو کوچیاني قومونو د ژمي تیرولو ځای وو. د دې علاقه دارۍ نوي ځښتن په چټکۍ سره د لاش کلا د هغې د ورانیو د پاتې شونو پر سر له سره ودانه کړه او هم ئـې د جوین حصار په دښتې کې جوړ کړ چې د سیند د مقابل لورې غاړې څخه ۳ مایله لیرې واقع ده. همدا شان نوموړي د قلعـۀ کاه او څو نورې مهمې کلا ګانې له سره ورغولې.

صالح محمد خان د خپلې خیر ښـېګڼې شیطاني نبوغ هغه مهال په اثبات ورساوۀ چې د وزیر فتح خان په نیولو او مثلـه کولو یا ټوټه ټوټه کولو کې ئـې مشوره ورکړه او په دې سره د احمد شاه «بابا» د اقتدار وروستۍ کرښه ئـې پاکه کړه. په دې پسې صالح له محمود څخه زړه تورن او خوابدی سو او له شاه شجاع سره یو سو، خو په دې پسې ئـې خپله مخه خپلې کلا ته واړوله او لاش ته راغی او تر یوۀ وخته پورې بې طرفي او ګوښې توب ئـې غوره کړه. د تیمور «شاه بابا ع» بل زوی حاجي فیروز الدین دا مهال د هرات والي وو او غوښتل ئـې لاش جوین تر خپلې سلطې

[1] - Chalbagi

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لاندې راولي نو له دې کبله ئـې خپل له سر او ځان تير عقيدتمند ، دوست محـمد خان، چې په قوم پوپلزی وو، لاش جوين ته ولـېږۀ چې لاش جوين ونيسي. صالح محـمد خان ځان جوين په دې شرط ورته وسپارۀ چې دۀ ته دې اجازه ورکړل سي چې په لاش کې پاتې سي. خو کله چې هرات ته د دوست محـمد خان پوپلزي د ستـنـېـدلو وخت راغی نو صالح محـمد ته ئـې په سپينه او ډانګ پيلي توګه وويل چې دی نور نـۀ سي کولای په دې ولايت کې د پاتې کـېـدلو کړاو پر ځان ومني او له دې وروسته صالح محـمد خان کندهار ته د کندهار والي پناه يوړه. کامران په بـېـړه صالح محـمد خان د خپلو چارو د عمومي مدير په توګه وټاکـۀ او په دې موقف کې تر نهو يا لسو کالو پورې پاتې سو. کامران په دغـۀ مهال کې د هرات والي سو او صالح محـمد خان چې دا مهال د شاه پسند خان په نامـۀ يادېـدۀ خپلې پخوانۍ مينې ئـې بيرته لاس ته راوړي او له دې ځايه ئـې د فيروز الدين کسان وايستل. له کامران سره د صالح دوستي او انډيوالي نـۀ ماتـېـدونکې وه. خو بر عکس يو ځل دی په هرات کې ونيول سو او بنـۀ وځپل سو. په دې پسې نوموړی د فارس خاورې ته وتـښـتـېـد او له هماغه ځايه ئـې خپل زاړۀ ځای ته څو څو ځله لښکرې راوستې او د جوين، فراه او نورو ځايونو نيول او له لاسه ورکول ئـې کول. خو له دې سره سره نوموړی هيڅکله په دې بريالی نـۀ سو چې لاش ونيسي او ځان هلته ټينګ کړي. په دې پسې کامران بيا ورباندې عنايت وکړ او دا ځل ئـې خپل وزير وټاکـۀ او فراه او جوين ئـې ورته ورکړل خو په حسادت ئـې لاش ځان ته وساتـۀ. په پای کې شاه پسند خان نور ستړی سو. او بيا ئـې د کامران مخې ته يو کاغذ کښـېـښود چې لاسليک ئـې کړي، په ليک کې غوښتنه سوې چې تصديق کړي د لاښ کلاد دۀ ده او نوموړي دا غوښتنه د دې لپاره کړې چې غواړي چې خپل عزت او درنښت په خپل قوم کې وساتي.

له دې يو کال تـېـر سو، په دې مودې کې کامران ياد سوی کاغذ هـېـر کړی وو، کله چې يو ناڅاپه د شاه پسند پيام رسوونکی لاش ته د والي په عنوان د خان له ليک سره راغی، نو دا ليک مهر سوی او نوموړي شهزاده لاسليک کړی وو او غوښتنه سوې وه چې کلا دې ور وسپارل سي، د ليک عمومي فحوی او معنی دا وه چې کلا دېد دۀ ټاکل سوي تن ته وسپارل سي. والي دا کلا په بشپړ ډول ونيوله: کلا وسپارل سوه او شاه پسند د سترګو په رپ کې کلا ته ورغی او له دې ځايه ئـې بغاوت پيل کړ، او د هر هغـۀ اقدام پر ضد چې د دۀ پر وړاندې کارول کـېـدۀ مقاومت ئـې وکړ، له دې سره سره کامران اووۀ يا اتـۀ ځله او دوه ځله ئـې په خپله کوښښ وکړ چې جوين او لاش محاصره کړي.

د احمد شاه «بابا – ژ» د کورنۍ په نزول او له هغـۀ څخه هوسا او بې تکلفه پاتې سوي شاه پسند خان په ډېرې آرامۍ د خپل عمر تر ډېر زړښت پورې په لاش جوين کې ژوند وکړ او په ۱۸۵۰ز کال کې مړ سو. د دۀ ځايناسی د دۀ وراره احمد خان سو چې په ۱۸۸۱ز کال کې مړ سو. د ۱۸۵۰ او ۱۸۶۰ز د ناآرامو او منقلبو کلونو په اوږدو کې احمد خان د هرات د وزير يار محـمد خان خوا ونيوله او ورپسې ئـې د فارس خوا ونيوله. احمد خان تر خپل مرګ مخکې ټولو کلونو کې د برتانوي دولت جيره يا مقرري تر لاسه کوله او کله چې برتانوي ځواکونو کندهار ونيو دی چمتو وو چې د ايوب پر ضد زموږ ترڅنګ د جګړې ډګر ته راسي. ويل سوي چې نوموړي ۳۰۰۰ تنه راټول کړي ول او ان تر يوۀ ځايه لا مخکی راغلی وو. دا د برتانوي ځواکونوله ايستلو مخکې پيښ سول او کله چې له کندهاره د برتانويانو د وتلو پريکړه وسوه نوموړی په ياد راوړل سو. (مننه ورڅخه وسو – ژ)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د نوموړي له مړيني ډېره لږ موده مخکېد دۀ مشر زوی شمس الدين د دۀ دويم زوی غلام حيدر د يوۀ پټ تحريک يا پټې پاروني په لړ کې وواژۀ، باور دا دی چې دغه محرک يا پاروونکی محمد حسن د احمد خان ترۀ وو. وژونکی «غلام حيدر –ژ» تهران ته وتښتېد او احمد خان هم همدا مهال مړ سو او محمد حسند دۀ ځای نيولو ته پښه وړاندې کړه. له ظواهرو ښکاري چې غلام حيدر د لاش جوين د خلکو په منځ کې شهرت درلود.

د احمد خان[2] له مړيني وروسته داسې ګډوډۍ رامنځته سوې چې امير ورڅخه ګټه پورته کړه او په لاش جوين کې ئې سرتيري ځای پر ځای کړل او له هماغه وخته راوروسته دلته دا سرتيري پاتې دي. په ۱۸۸۴ز کال کېد دې سرتيرو بولندوی په ځانګړې توګه د سيمې حاکم وو او ملکي او جنايي «قضايي - ژ» اداره تش په نامۀ د محمد حسن په لاس کې وه.

مړک وايي: " ويل سوي چې د کورنۍ په ځوانو غړو کې محمد مدت «م د د – ژ» خان د ګلزار خان زوی ډېر وړ او کاري سړ وو. هيڅ شک نۀ سته چې محمد حسن خان د خپل سلف په اندازې چنداني نفوذ نۀ درلود او تر هغو حالاتو لاندې چې دۀ مشري ترلاسه کړه طبعاًد دۀ موقف ئې لا نور هم ضعيف کړ. ظاهراًد دۀ خپل قوم او وګړو په عام ډولد دۀ پر وړاندې سوړ نظر درلود."

محمد حسن په ۱۸۸۵ز کال کې مړ سو. کله چې د سيستان مأموريت په ۱۹۰۳ – ۱۹۰۴ز کال کې له دې سيمې ليدنه وکړه مدد خان د لاش جوين حاکم وو. دی اود دۀ د اکا زوی د «درګ» محسن خان په خپل قوم کې تر ټولو ډېر نفوذ لرونکي کسان ول خو د يو بل وينو ته تږي ناست ول.

نوربيا

وګړي:

يادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک ټولی او دويم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

[2] - د ژباړونکي يادونه : دلته ليکوال يوه ډېر لويه تېروتنه کړې ده. په انګليسي متن کې د احمدشاه له مړيني وروسته ګډوډۍ ئې ليکلي دي حال دا چې موخه ئې د هماغۀ احمد خان له مړيني وروسته ګډوډۍ دي. او نيغ په نيغه احمد خان وليکۀ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ